## د داوطلبی اعلان

**د پروژې نوم: د کابل گردیز لویې لارې څخه تر مس عینک معدن پورې د قیر سړک جوړول (دریم فاز)**

**د پروژې شمېره : MJAM-ZC-GC-2025-006**

**قرارداد ورکوونکې: MCC-JCL AYNAK MINERALS COMPANY LTD**

**د شرطپاڼې د سپارلو اخري نېټه:03 جون 2025 سهار 11:00 بجې (د کابل پر وخت)**

**د داوطلبی د ختمېدو نېټه :20 جون 2025 سهار 11:00 بجې (د کابل پر وخت)**

**کټگوري : داخلي داوطلبي**

**د پروژې ساحه: محمد آغه ولسوالي، لوگر - افغانستان**

MCC-JCL AYNAK MINERALS COMPANY LTD له ټولو هغو شرکتونو څخه چې په یاده پروژه کې لیوالتیا لري، په عمومي ډول غوښتنه کوي چې د شرطپاڼې (Prequalification) اسنادو د ترلاسه کولو لپاره خپل غوښتنلیکونه وړاندې کړي. موږ به د شرطپاڼې دا پروسه د انصاف، عدالت او شفافیت له اصولو سره سمه ترسره او ټول مستحق او علاقه مند داوطلبان په داوطلبی کې گډون ته راوبولو.

د داوطلبي الزامات په لاندې ډول دي:

**۱. تدارکاتي موخه:**

د چاپیریال او خوندیتوب ټول معیارونو او مقرراتو ته په پاملرنې سره د ډیزاین له مخې د کابل لویې لارې څخه تر عنیک معدن پورې د غځېدلي سړک جوړول.

**۲. د خدماتو محدوده:**

په دې برخه کې ټول ساختماني کارونه لکه تخریب (demolition) کېندنې (excavation)، د جوړښتونو (پلچکونه او محافظتي دیوالونه ( culverts and protection wall) جوړول ، د سړک د بستر طبقې: فرعي تهداب او د بیس کورس دوې طبقې (sub base and two layers of base course) اسفالت پوښونه (بایندر او وروستی سطحه ((binder and (surface/wearing course)) د سړک بشپړه جوړونه او نور اړوند فعالیتونه لکه څنگه چې د احجامو په جدول BoQ ، ډیزاین نقشه، او تخنیکي مشخصاتو کې په گوته شوي، شامل دي.

MCC-JCL AYNAK MINERALS COMPANY LTD. 中冶江铜艾娜克矿业有限公司 MJAM

**۳. د سپارلو وخت:**

ټول داوطلبان او غوښتونکي دې دشرطپاڼې (Prequalification) لپاره خپل غوښتنلیکونه له ټولو اړینو اسنادو سره یو ځای، د 2025 کال د جون تر 03 مې نېټې د سهار تر 11:00 بجو پورې د قرارداد ورکوونکي ادارې ټاکل شوي پتې ته وسپاري.

**۴. ټاکل شوې پته:**

د MJAM کمپنی مرکزي دفتر (سمنټ خانه، زاړه مکروریان، ۱٦ مه ناحیه) کابل - افغانستان

**5. د غوښتونکي د ثبت او شرط پاڼې د اسنادو اخیستلو مهالویش او موقعیت:**

هغه شرکتونه چې غواړي په داوطلبی کې برخه واخلي، باید یو نماینده وټاکي ترڅو د 2025 کال د می میاشتې له 24 مې نیټې څخه د می مایشتې تر 30 مې نیټې پورې په رسمي کاري ورځو کې د سهار له 9:00 بجو څخه د مازدیگر تر 4:00 پورې د قرارداد ورکوونکي له ادرسه دشرطپاڼې (Prequalification) اسناد وړیا تر لاسه او د ثبت پروسه تکمیله کړي.

**٦. یادونه:**

دشرطپاڼې (Prequalification) اسناد یواځې هغه نمایندگان تر لاسه کولای شي چې د شرکت وکالت خط یا نماینده خط له ځانه سره ولري. له ثبتولو او اسناد اخستلو مخکې، نماینده باید خپله تذکره او د صلاحیت سند چې د شرکت مهر او د قانوني استازي له خوا امضاء شوي وي او دا ثابتوي چې اسناد اخستونکی د ثبت پروسې او اسناد اخستلو لپاره مؤظف شوی دی، له ځان سره ولري څو دشرطپاڼې (Prequalification) اسناد تر لاسه کړي. همدارنگه داوطلب باید د صلاحیت په سند کې په واضحه توگه د پروژې عنوان او د پروژې شمېره چې غواړي گډون په کې وکړي ذکر کړي.

**۷. اړیکې:**

مسئول : وانگ شیوجون

تلیفون: +93(0)708319180

برېښنالیک: wangxuejun@mcc-mining.com

پته: د MJAM کمپنی مرکزي دفتر (سمنټ خانه، زاړه مکروریان، ۱٦ مه ناحیه) کابل - افغانستان

MCC-JCL AYNAK MINERALS COMPANY LTD.

May 22, 2025